ليکوال ابراهيم نعيمي ۲۰۱۱/۰۸/۲۳

# افغان ولس سوله غواړی که جګړه؟

پنځمه برخه

په تیروبرخوکې روښانه شوه چې د څه د پاسه دیرش کلنې جګړې ډیرعوامل د بهرنیانو لاسه وهنه او یا هم مسقیم تیری ګڼل کیږي. په دی کې شک نشته چې محدود شمیر افغانانو د خپل ځاني ګټو په خاطرپه یو یا بل ډول د جګړې د رامنځته کیدلو لپاره شرایط برابرکړی دی نو ځکه داسې هم نه ده چې افغانان د جګړې مسولیت یوازې پربهرنیانو وتپې. ولې اصلي خبره داده چې افغان عام ولسونه د جګړې زیږنده نه دي که یو شمیرافغانان هم ول هغوې د بهرنیانود ایډیالوژیکانو د پیاده کولو لپاره د دوی سره په ګډه داچاره سرته رسولې ده. زه غواړم چې د لایل وړاندې کړم چې افغان ولس که پښتون، تاجک، ازبک، هزاره، ترکمن ... دی، د جګړې عاملین او مسولین ګڼلای نه شو. ولس همیشه د ټولنې د پرمختګونو څخه په هغه کچه چې د دوی کلتور، عنعنو او په ځانګړې ډول استقلال ته درناوی شوی وی، ملاتړ ورڅخه کړی دی. که د دوستانو یادوی کله به چې روسانو افغانان ونیول، نونیول شوی افغانان به یې ډیرملامت کړل چې دوی د مرستو لپاره راغلي دی ولې جګړه ورسره کوي او ولې د پاکستان د څاروګری اداري په ملاتړجګړه کوي؟ ځینو نیول شوو افغانانو به په ډیرحیرت په نیغه ورته وویل، ته ما اشرار، جګړه مار د پردیو جاسوس ګڼې ولې دا زماخپل هیواد دی موږ شوروی ته درغلی نه یم تاسې بیله زموږ غوښتنې د الوتکو او توپونو سره راغلي یاست، هیواد مو ورانوئ اوخلک مووژنئ خو بیا هم پرموږ اچوئ. ایا داسې کړنې د عقل په پیمانه اندازه کیداي شي؟

د نړئ ټول ولسونه په خپلو هیوادونو(پلرني هیواد) کې غواړی او حق لری چې ځانونه په امن او بیله د پردیو دلاس وهنو څخه ازاد او خپلواک احساس کړي. په دی اړوند د ښاغلې پوهاند ډاکټر حسن کاکړ د کتاب (**رڼا او دفاع** ...) په (۱۴۹) مخ کې ولولی:

« بله داچې پخواله دی چې په قانون کې د افغانستان نه دفاع د افغانستان د ټولو اتباعو وظیفه وګڼل شي، دوی د وطن په دفاع باندې ټینګ ولاړوو، چې دوي، د دوي پلرونه او نیکونه له همدغه وطن سره په روحیاتي او دژوند په لحاظ تړل شوي وو. وطن یا هیواد دوی ته هسې یو جغرافیوي موقعیت نه و. هغه د دوي مینه وه او د مایکل ګل ون په نظر(ځنګه چې دهیواد اصطلاح د یوچا مینې ته راجع کیږي، هغه ترټولو موسساتو څخه ډیره سپیڅلې ده. مینه یوازې په جغرافیوي حس سره موقعیت نه دي، بلکې هغه ځای دي چې یوڅوک ورپوري اړه لري. مینه د ارزښت سرچینه، د ژبې منشا او هغه نغري دي چې له هغه ځای نه د کورنې د تقلید وړ لویان هسک کیږي. دا هغه ځای دي چې هلته یوڅوک یوڅوک کیدلي شي.) » د پورته ارزښتناکه جملو په لوستلو سره حکم کیدلای شي چې افغان ولس هم د ازادی او بشپړې خپلواکئ حق او وړتیالری. که بهرنیان مرسته کوی نو په الوتکو او ګولیو وژل د مرستو یوه برخه نه شی ګڼل کیداي. دا هم عجیبه ښکاري چې یو اشغالګر حق ولری چې زموږ هیواد اشغال کړی او بل اشغالګر(نور) بیا دا حق ونه لری. اشغالګر په مذهب، توکم او نژاد پوری کومه اړه نه لری. ټول پردي په هر مذهب او نژاد پورې چې اړه ولري او دیوهیواد د ولسونو ازادي او استقلال ورڅخه واخلي هغه ته اشغالګر او دښمن ویل کیږي. (موخه مې دشورویانو او اوسنیو بهرنیو پوځیانو پرتله کول دي). زموږولس د دغسې پوښتنو سره همدا اوس مخامخ دی. د دی ټولوخبرو څخه پایله داده چې پرعام ولس باید پړه ونه تپوو، ځکه ولسونو د څه د پاسه دیرشوکلنو په جګړوکې د هیواد د استقلال لپاره سربښندنې کړی دي، بیله دی چې په ګټلوکې کومه مادي ونډه ورته ورسیږي.

هیره دی نه وی چې ګناه د ځینو مشرانوول چې د خلکو ملي پاڅون یې شنډاوه ترڅو د نورو په لمسون هیواد وران کړی. همدا اوس د بې ګناه انسانانو وژل، د ښوونځیوورانول د تیراشغال په څیرد ولسونوکارنه دی. بیاهم د خلکود ملې احساساتو څخه ناوړه ګټه اخیستل کیږی ترڅوخپل هیواد په وران او خپل ځوانان په ووژني. په تیره برخه کې مې هغه علتونه چې نړیوال پوځونه اونورې مرستندوی ټولنې یې وبری ته درسیدو لپاره په ډیرو ستونزو اخته کړی دی، لږ بحث وربانديې وکړ. دغه بحث ته ادامه ورکوم. کله چې د طالبانو حکومت ونړید. افغانانو د ډیرو امیدونو او هیلوسره د جګړې دتیرو داغونو په هیریدولو او دنوی افغانستان د جوړولو لپاره تیاری وښود. هرلورې د خوښی انګازې خپری شوی. امنیت دومره ښه وه چې یوه امریکایې ژورنالیسته د خپلوخاطراتو په بیان کې وایې چې نوموړی د کندهارد خاکریز په سیمه کې دوه کاله واوسیده او په ښارکې بیله ډاره ګرځیده په همدغه ډول ډیرنورو بهرنیانو دهیواد په ګوټ ګوټ کې تګ اوراتګ کاوه. نړیوالوسره د دی چې په تیرولسو کلنوکې افغانې دود او عنعنې ته درست پام نه کاوه، دولتې واکداران یې هم هغه کسان ول او دي چې زیات شمیریې په داړه مارانو مشهوردي. سربیره پردی په افغانستان کې یوه سالمه ستراتیژی هم نه درلودل.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

پام وکړی زما د ژباړني یوې برخې ته (۱۲ / ۸ / ۲۰۱۱ زکال) چې په nahimi.dk/pashto ویبپاڼه کې تر دافغانستان سره مرسته کول شکونه رامنځته کړی دی سرلیک لاندې خپره شوی ده:

« سمیناالحمدSamina Ahmad د نړیوال سهیلې اسیا د ګروپCrisis Group مشروایي:

« دپوځې پرمختګونو ستراتیژي که ښه تعبیرشی، ناکامه او که جدی تعبیرشی، ناکاره او دګټې اخیستنې نه وه. نوموړې علاوه کوی: د دی پرځای چې مرسته هغوافغانانو ته رسیدلی وای کوم چې اړتیایې ورته درلوده ولې په بدل کې ډیر لګښت پر لنډمهاله پروژو چې د ISAF د پوځې پرمختګونو لپاره یې لاره هواروله، وشوچې زمادنیوکې وړده .»

په همدغه ژباړنه کې ولولی:

« Crisis Group وایي : نړیوالې ټولنې د یوپایداره حکومتي اداري د جوړښت لپاره په کابل اود افغانستان په (۳۴) ولایتونوکې ډیرلږ کارکړی دي» بیاهم ولولئ :

« د مرستو یوه بله بهرنۍ موسسه په افغانستان Aid and conflict in Afghanistan کې خپل نظرداسې څرګندوي:

« دلسوکالود زیاتو مرستو سره سره بیا هم دولتې جوړښتونه ډیرکمزوری دی. حکومت نه شی کولای دټولنې د ډیر کیو سره سالمه مرسته وکړی او هم په هیوادکې امنیت رامنځته کړي.»

څه موده مخکې ښاغلي جلالي د اریانا تلویزیون سره ځانګړې مرکه درلوده. ښاغلي جلالي د نورخبرو په ترځ کې داسې وویل:

« نړیواله ټولنې او یا امریکانوتر(۲۰۰۹زکال) پوري کومه ځانګړې ستراتیژي نه درلوده. تر(۲۰۰۹زکال) وروسته دوی وتوانیدل چې یوه ټاکلي موخه وټاکې. بله خبره داده چې پوځیان د افغانستان د بیا رغونې لپاره راغلی نه ول. کله چې پوځونه و افغانستان ته ننوتل نوویل ښه دی څه رغونه به هم وکړو...»

که پورته اسناد په غورولولو، څرګنده به شی چې افغان ولس د پرمختګ او د خپل ټولنې په جوړولوکې هیڅ ډول ستونزې نه دی رامنځته کړي. په حقیقت کې نړیوالې ټولنې د امریکا په مشرتابه په افغانستان کې د امنیت د راوستلو او د افغانستان د بیا رغوونې لپاره کومه ځانګړې ستراتیژي چې په منطقي توګه سنجول شوی وای، نه درلوده. یوازې د جورج بوش غوصه وپاریدل چې ژرطالبان نسکورکړی او بری به وموميي. د بن بیړنۍ غونډه او لویه جرګه یې جوړه کړه. په لویه کچه یې د جګړو سرداران ورته راوبلل. داسې لویه جرګه وه چې ژبنې اوت وکمیزې د ښمنۍ یې وپارولې. تنظیمونه او دجګړو قوماندانان خو دجرګې سرداران ول. پایله یې ترلسوکالو وروسته په سترګووینو. داچې اداري فساد په افغانې چاروکو او بهرني مشاورینوکې کومې کچې ته رسیدلی دی، اندازه کول یې ستونزه ده. تیره ورځ مې یولیکنه ولوستل، یو جمله یې ولولی: « په تیرو وختونوکې رشوت اخیستل ډیرلږوه یاهیڅ نه وه لکه اوس چې ډیرلږ کسان یا به هیڅوک د افغانستان په دولتي اداره کې نه وی چې رشوت وانخلي.» په میلیاردو ډالرونه هیوادته راغلل. لویه برخه یې د بهرنیو لخوا بیرته یووړل شوه او ډیره کوچني برخه یې زموږ ککړو زورواکانوته ورکړی چې خوشحاله اوسي او دچوپړ لپاره نورهم ښه تیاری ولری.

پورته لیکنې په ښکاره څرګندوي چې هرڅومره میلیاردونه نورهم افغانستان ته ورکړل شي، امنیتي حالت به جوړنه شی او نه به د خلکو په ژوندکې موجوده حکومت مثبت بدلون راوستلای شي. ولې د دغومره پیسوسره سره بیاهم زموږ امنیتي ارګانونه نه دی توانیدلي چې دهیواد امنیت خپله ونیسي. دغه موضوع او نور موضوعات به په راتلونکې برخه کې بیان کړم پای.

نوربیا...


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ